# The Critical and Research based analysis of Sketch Writing in Pashto

## پښتو کښې د خاکه نګارۍ فني او فکري سفر

Dr.Javed Iqbal*
Dr. Khanif Khalil ★★

**ABSTRACT:**

**Literary genre of sketch writings has been derived from painting in fine arts identifying as pen portrait or literary sketch. In fact this genre is known as personal and informal expression depicting the basic signs of a particular person in a peculiar diction. Pashtun writers have expressed their observation based reviews in this peculiar prose genre in the early decades of 20th century which were followed later by a number of prose writers. Even a few collections have been published by some prose writers in recent days. This is certain the literary sketch writing is very attractive in the sense of light diction and individual style of a prose writing, but an effort of a comprehensive account and analytical study of sketch writing has not been made in out literati. This article actually deals with research and analytical survey of literary sketch writing in Pashto prose with the help of relevant data. It has been elaborated that literary sketch writing in Pashto prose is need of some more attention of our intellectual circle.**

خاکه په بنیادي توګه په فنون لطیفه کښې د مصورۍ او تصویر کشۍ د فن سره تعلق لري خو بیا ورو ورو ئې د ادب نثري صنفونو ته هم سفر کړے دے، په ادب کښې هم د خاکې صنف هم هغه حېثیت لري څنګه چې په مصورۍ کښې تصویر مکمل نۀ شي جوړولے بلکه د څنو اشارو او کرښو په ذریعه د تصویر تاثر ورکولے شي، دغسې په ادب کښې هم خاکه پوره تفصیلات نۀ پېش کوي بلکه د څنو اشارو په ذریعه د قلمي تصویر کړۀ وړۀ څرګندولے شي چې په را روان بحث کښې به ئې نور وضاحت کولے شي.

خاکه یو داسې صنف دے چې په نوو نثري صنفونو کښې ورته په ډېرو حوالو اهمیت حاصل دے، پښتو کښې د دې صنف عمر کم نۀ دے خو رفتار او معیار يې بیا هم د اطمینان وړ نۀ دے، مونږ که پښتو کښې د دې صنف تخلیقي اړخ ته ګورو او که تحقیقي او تنقیدي اړخ ته نو راته جوتیږي چې پښتو کښې دې صنف ته هغه هومره توجه نۀ ده شوې څومره چې په کار ده. دا صنف پښتو ته د انګرېزي ادب نه د اردو په لاره راغلے ښکاري خو ورسره دا وضاحت هم ضروري دے چې پښتو کښې د خاکې کومې وړومبۍ نخښې دي په هغو کښې د پښتو لیکوالو خپل

---

* Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta
★★ Director, NIPS, Quaid-i-Azam University Islamabad

ذهني او فکري کاوشونه هم په نظر راځي. د خاکې د صنف فني غوښتنې څۀ دي او د دغو فني غوښتنو په رڼا کښې پښتو ادب کښې دې صنف د معيار او مقدار په لحاظ څنګه او څومره سفر کړے دے، په لنډه توګه د دغو پوښتنو د جواب هڅه کوو او د پښتو په نثري ادب کښې د دې صنف په فني او فکري سفر د يوې تحقيقي او تنقيدي جائزې اخستلو هڅه کوو.

## د خاکې فني غوښتنې:

خاکه په نوو نثري صنفونو کښې هغه مقام او حېثيت لري چې په کښې په يو وخت د شخصيت نګارۍ، سوانح نګارۍ، افسانوي تجسس (Suspence) د تکل نګارۍ د شګفتګۍ او د ډرامې د کردار نګارۍ خصوصيات په نظر راځي.

خو د دې هرڅۀ باوجود د خاکې کړۀ وړۀ او فني غوښتنې بيا هم خپلې ځانګړتياوې لري چې يواځې د خاکې دپاره ضروري ګڼلے شي، د ګڼو نثري صنفونو د خصوصياتو لرلو باوجود چې وړاندې يې ذکر هم وشو، خاکه نۀ خو سوانح ده، نۀ شخصيت نګاري او نۀ حليه نګاري، خاکه بس خاکه ده چې د تخليق کار او قلم کار د تخليقي قوت، شخصي مشاهدې، د ژبې او بيان د خوږلت او د سنجيده مزاج باوجود د طنز او مزاح رنګ هم لري، هرکله چې د دې صنف ورومبۍ نخښې په مغربي ادب کښې موندے شي او بيا په مشرق کښې يې په اردو ادب کښې ډېره زياته وده کړې ده نو ځکه مونږ ضروري ګڼو چې د انګرېزۍ او اردو ادب په وسيله د خاکې په فني غوښتنو خبرې وکړو او بيا پښتو کښې د دې صنف فني او فکري سفر واضح کړو.

په انګرېزي ادب کښې خاکې دپاره عموماً د (Pen portrait) او (Literary Sketch) نومونه استعمال شوي دي او د يو ادبي صنف په حېث يې په انګرېزي ادب کښې په شپاړسمه عيسوي صدۍ کښې سر ښکاره کړے دے. د (Pen portrait) تعريف په انګرېزي ادب کښې په دې ټکو شوے دے:

"An informal description of a person or group of people this may Cover age and other hard, Variables, but will focus on softer dimensions Such as attitudes appearance and lifestyle"(1).

ترجمه: (د يو شخصيت يا ګڼو خلقو بيانيه چې د عمر او نورو شکلي کړۀ وړۀ (بدل رنګونه) را مخې ته کوي خو عموماً د شخصي اوصافو په اړخونو، رويو، اظهارِ خيال او د ژوند په روش زور راوړي).

د ادبي خاکې (Literary Sketch) وضاحت په انګرېزي ادب کښې داسې کېږي:

"A Sketch Story, or Sketeh, is a Piece of writing that is generally shorter than a short story, and Contains very little, if any, plot. The genre was invented in the 16th century in England, as a result of increasing public interest in realistic depictions of "exotic" locales. The term was most Populayly – used in the late nineteenth century. As a literary work, it is also often referred to simply as the sketch"(2).

ترجمه: (يوه ادبي قيصه يا خاکه يوه داسې ليکنه وي چې عموماً که پلاټ هم ولري نو د افسانې نه وړه وي، دا صنف په شپاړسمه عيسوي صدۍ کښې په انګلستان کښې په ورومبي ځل تخليق شوے ؤ چې اولسي مفادو ته د

حقيقت نګارۍ شکل ورکړي، دا اصطلاح زياته په نولسمه صدۍ کښې استعمالېده، د يو ادبي ليك په حېث دې ته په ساده ټکو کښې ادبي خاکه وئيلے شي)

د انګرېزي ادب د دغه لنډو تعريفونو په بنياد زمونږ د اردو او پښتو ليکونکو هم د خاکې د فني غوښتنو وضاحت او تعريف کړے دے چې څو مثالونه يې دلته پېش کولے شي.

د اردو ليکوال ابو الاعجاز حفيظ صديقي په کشاف تنقيدي اصطلاحات کښې د خاکې په حقله ليکلي دي چې:

"خاکہ ایک سوانحی مضمون ہے جس میں کسی شخصیت کے اہم اور منفرد پہلو اس طرح اجاگر کئے جاتے ہیں کہ اس شخصیت کی ایک جیتی جاگتی تصویر قاری کے ذہن میں پیدا ہو جاتی ہے. خاکہ اسی شخص کا لکھا جاسکتا ہے جس سے خاکہ نگار ذاتی طور پر واقف ہو اور اس نے اسے بہت قریب سے دیکھا ہو"(3).

ترجمه: (خاکه يو سوانحي مضمون دے چې په هغې کښې د يو شخصيت اهم او ځانګړي اړخونه داسې جوت کړے شوي وي چې د هغۀ شخصيت يو ژوندے تصوير د لوستونکي په ذهن کښې پېدا شي. خاکه د هغه کس ليکلے شي چې خاکه نګار ئې ذاتي طور پېژني او د ډېر نزدې نه ئې ليدلے وي)

د ښاغلي ابو الاعجاز حفيظ صديقي په دغه اقتباس کښې د خاکې د فني غوښتنو د وضاحت په وخت د سوانحي مضمون او شخصيت نګارۍ يادونه هم شوې ده، خو هرکله چې په دغه قسمه ليکونو کښې تفصيلات هم بيانولے شي نو ځکه د دغو ليکونو صنفي حېثيت د خاکې سره فاصله پيدا کړي او خاکه په خپله يو منفرد صنف پاتې شي په کوم کښې چې د تفصيلاتو په ځاې د مخصوصو فني اشارو ضرورت محسوسيږي ښېخي هم دغه شان لکه څنګه چې مصور په يو تصوير کښې د قلم د څو کرښو را ښکلو په مرسته محض يوه خاکه وړاندې کوي او تفصيلات کتونکي ته پرېږدي، هم دغه شان ادبي خاکه نګار د يو شخصيت د شخصيت کړۀ وړۀ محض په اشارو کښې بيانوي او تفصيلات يې لوستونکي ته پرېږدي. د اردو يو بل ليکوال ښاغلي بشير سيفي درست ليکلي دي چې:

"سکیچ بنیادی طور پر مصوری کی اصطلاح ہے جس میں چند لکیروں کی مدد سے کسی شخص کے خد وخال واضح کئے جاتے ہیں، لہٰذا ادب کی اس صنف میں الفاظ کی وہی اہمیت ہے جو مصوری میں لکیروں کی ہے، چنانچہ اختصار خاکہ کی بنیادی خوبی سمجھی جاتی ہے. خاکہ نگار کے پاس واقعات وتاثرات کا انبار ہوتا ہے اور اسے ان میں سے ایسے واقعات کا انتخاب کرنا ہوتا ہے جن کے آئینے میں پوری شخصیت کا عکس نظر آئے کیونکہ غیر ضروری تفصیلات اور واقعات کی بھرمار سے خاکے کا تاثر مجروح ہوتا ہے"(4).

ترجمه: (خاکه په بنيادي توګه د مصورۍ اصطلاح ده چې په کښې د کرښو په ذريعه د يو شخصيت کړۀ وړۀ واضح کولے شي. په دغه ادبي صنف کښې د لفظونو هغه اهميت دے کوم چې په مصورۍ کښې د کرښو دے. ځکه خو اختصار د خاکې بنيادي خوبي ګڼلے شي. د خاکه نګار سره د واقعاتو او تاثراتو يو انبار وي خو هغه په دغو کښې د داسې واقعاتو چوڼ کوي چې په کښې د يو شخصيت پوره عکس په نظر راشي، ځکه د غېر ضروري تفصيلاتو او واقعاتو د انبار له وجې د خاکې تاثر مجروح کېږي)

تراوسه چې مونږ د خاکې د تعريف او فني لوازماتو په حقله کوم اقتباسات پېش کړل د هغې نه د خاکې کړۀ وړۀ په حقله څنې بنيادي خبرې زمونږ مخې ته راغلې چې په دې ډول دي:

(1) خاکه نۀ مضمون دے، نۀ سوانح او نۀ شخصيت نګاري خو ددغو صنفونو اثرات په کښې جوت ليدے شي.

(2) خاکه يو تخليقي نثري صناف دے چې په کښې د افسانوي ادب د کردارنګارۍ رنګ هم ليدے شي خو بيا هم خاکه افسانوي ادب نۀ دے بلکې د حقيقت نګارۍ رنګ لري.

(3)په خاکه کښې د يو شخصيت د ذات او خدماتو تفصيل نهٔ شي وړاندې کېدے بلکې د هغهٔ د ذهني او فکري ارتقاء ته محض اشارې کولے شي.

(4)په خاکه کښې د يو شخصيت د صوري کړهٔ وړهٔ نه زيات د معنوي خدوخال څرګندونه اهميت لري.

(5)د يو خاکه نګار دپاره ضروري ده چې د کوم شخصيت خاکه ليکي بائد چې د هغهٔ د ذات او صفاتو په حقله ژوره مشاهده ولري او حقيقت پسندانه تصوير کشي يې وکړي.

د دغو بنيادي خصوصياتو نه علاوه هم د خاکې دپاره ځنې خوبۍ په کار دي چې هغه د خاکه نګار د مزاج، شخصيت، تخيلي قوت، اسلوب او د ژبې او بيان قوت او اظهار سره اړه لري.

په دې توګه مونږ د خاکې د فن او هيئت په حقله خو ځنې اشارې وکړې او دغه شان د دې صنف د نورو فني خوبيو وضاحت به د پښتو خاکې په فني او فکري جائزه کښې مخې ته راشي او دا به هم جوته شي چې د پښتو ليکونکو د دې صنف د ليك په وخت د دغو فني غوښتنو څومره خيال ساتلے دے او په پښتو کښې يې د کوم معيار خاکې ليکلې دي.

فـنـي او فـکـري سفـر:

پښتو کښې د خاکه نګارۍ د ابتدا په حقله د محققينو رايو کښې اختلاف دے او زياتو محققينو دې لړ کښې تيندك هم خوړلے دے، مونږ ته دومره خو معلومه ده چې د شلمې صدۍ په نوو نثري صنفونو کښې خاکه هم يو داسې صنف دے چې د شلمې صدۍ په منځومانه کښې پښتو ته را داخل شوے دے خو د پښتو محقق پروفېسر داور خان داؤد د دې نوي تخليقي منثور صنف ابتدا هم د پښتو د کلاسيکي ادب نه کوي او ليکي چې:

"کله چې مونږ د پښتو ژبې د کلاسيکي ادب ژوره مطالعه کوو نو مونږ په دې شعر و ادب کښې بې شمېره منظومې قلمي خاکې وينو، هر څو که دا خاکې اجتماعي دي، انفرادي نهٔ دي او غير ذاتي دي، ذاتي نهٔ دي خو بيا هم زمونږ کلاسيکي ادب د خاکه نګارۍ په لړ کښې د جديد دور دپاره يو ښکلے او اعلیٰ مثال، معيار او نمونه وړاندې کوي، د مثال په طور خوشحال خان خټك چې د اورنګزېب عالمګير پښتنو سره د زور، ظلم او زياتي په غرض کوم نظمونه ليکلي دي يا يې د پښتو ځنې قبيلې د دوی د قامي بې حسۍ او خپلو کښې د بې اتفاقۍ او نفاق په وجه کړلې دي يا يې د خپلو زامنو د بې وفائۍ او نافرمانۍ کومه نقشه او خاکه راکښلې ده، دا پښتو شعر و ادب کښې له هره اړخه ډېر زيات اهميت لري"(5).

هر څو که د پرفېسر داور خان داؤد صاحب او عبد الله جان عابد په دغو معلوماتو کښې خبره د باقاعده خاکه نګارۍ نهٔ ده شوې بلکې د خاکې د ابتدائي شکل خبره شوې ده خو د هغهٔ دغه رائې بيا هم د تامل وړ ده او سمه نهٔ ښکاري، ځکه چې هغه کومو ابتدائي نخښنو ته اشاره کوي هغه د خاکې صنف سره هيڅ تعلق نهٔ لري.

مونږ چې د خاکې د صنف کومې فني غوښتنې په وړومبيو بحثونو کښې څرګندې کړې دي که هغه په نظر کښې وساتو نو د خاکې د صنف په حقله د پروفېسر داور خان داؤد رائې درسته نهٔ شو ګڼلے، دلته دا پوښتنه سر پورته کوي چې بيا پښتو کښې د ذکر شوو فني غوښتنو تر مخه د خاکې ابتدا کله او څنګه شوې ده؟، دې لړ کښې بيا هم دا

وئیلے شو چې د پښتو لیکونکي د دې صنف د ابتداء په حقله عموماً ناخبر پاتې شوي دي، د مثال په توګه پروفېسر صاحبزاده حمید الله صاحب د خاکې په حقله لیکي چې:

"خاکه په پښتو ادب کښې یو مخ نوے شے دے، دا د انګرېزي ژبې څخه اردو ته راغلے دے، په پښتو کښې د نثر دا صنف تر اوسه زما تر نظره نۀ دے تېر"(6).

د پروفېسر صاحبزاده صاحب دغه بیان د دې صنف نه بېخي په ناخبرۍ مبني دے ځکه چې د دغه بیان د وخت نه ډېر وړاندې دا صنف په خپل پوره فني چوکاټ کښې پښتو ته داخل شوے هم دے او ګڼ شمېر کښې خاکې لیکلې شوې هم دي. البته په پښتو کښې وړومبۍ باقاعده خاکه کومه یوه ده؟، په دې حقله هم زمونږ د محققینو تحقیق د سوالیه نخښو سره مخ دے. ښاغلے ایوب صابر چې د پښتو خاکې د ابتدائي سفر ذکر کوي نو وړومبۍ نامه د بېرسټر میاں احمد شاه یادوي او ورسره د پښتو د څنو خاکه نګارانو تفصیل وړاندې کوي هغه لیکي:

"پشتو کے خاکوں کا معیار اردو کے خاکوں سے کسی بھی اعتبار سے کم نہیں ہے. (اس میدان میں جن ادیبوں نے کام کیا ہے، ان میں میاں احمد شاہ بیرسٹر، عبد الخالق خلیق، قلندر مومند، مراد خان شینواری، اصغر لالہ، قمر راہی، رشید علی دھقان، تقی شراب ہاشمی، رب نواز مائل، ایاز داؤدزی، اسرار طوروی، عبداللہ جان مغموم، م، ر شفق اور راقم الحروف وغیرہ شامل ہیں، البتہ ایسے ادیب صرف ایک ہی ہیں جن کے خاکوں کا ایک مجموعہ کتابی شکل میں بھی چھپ چکا ہے. اور وہ ادیب ہیں اصغر لالہ"(7).

ترجمه: (د پښتو خاکو معیار د اردو د خاکو د معیار نه په هیڅ توګه کم نۀ دے، په دې مېدان کښې چې کومو ادیبانو کار کړے دے، په هغو کښې میا احمد شاه بیرسټر، عبد الخالق خلیق، قلندر مومند، مراد خان شینوارے، اصغر لالا، قمر راهي، رشید علي دهقان، تقي شراب هاشمي، ربنواز مائل، ایاز داودزے، اسرار د طورو، عبد الله جان مغموم، م،ر، شفق او راقم الحروف وغېره شامل دي. البته په دغو کښې یو ادیب داسې دے چې د خاکو یوه مجموعه ئې په کتابي شکل کښې چاپ ده هغه ادیب اصغر لالا دے).

په دغه تفصیل کښې ایوب صابر دا هم وئیلي دي چې پښتو کښې د خاکو وړومبے کتاب د اصغر لالا دے، د ایوب صابر دغه بیان هم درست نۀ دے چې وروستو به ورباندې بحث کولے شي، خو دلته مونږ د خپلو څېړونکو څېړنې ته په دې غرض اشارې کوو چې د دې صنف په حقله د هغوی معلومات څومره ناقص دي.

تر کومه پورې چې پښتو کښې د وړومبۍ خاکې تعلق دے نو زمونږ لیکونکي په دې یوه خولهٔ دي چې پښتو کښې وړومبۍ خاکه د ښاغلي عبد الحلیم اثر لیکلې خاکه خلیق صاحب ده چې په کال 1949ء کښې چاپ شوې ده، ډاکټر زبېر حسرت د وړومبۍ خاکې په حقله د ښاغلي لطیف پرېشان څنو تضاداتو ته اشاره کوي او لیکي:

"پورتنیو اقتباساتو کښې به لوستونکیو د لطیف پرېشان تضاداتو ته پام کړے وي چې اول دا خبره کوي چې دا صنف (خاکه) پښتو ادب کښې اول چا کله او څنګه متعارف کړه او بیا یې په خپله د خپلې خبرې په رد کښې وئیلي دي چې د عبد الخالق خلیق لیکلې خاکه "خلیق" وړومبنۍ خاکه ده، خو زهٔ ورسره دې کښې هم د اختلاف حق لرم چې اول خو د دې خاکې نوم "خلیق" نه بلکې "خلیق صاحب" دے او بله دا چې مذکوره خاکه خلیق په خپله نه بلکې ښاغلي عبد الحلیم اثر افغاني په وړومبي ځل 1949ء کښې لیکلې ده. چې په اول ځل هفته وار انصاف کښې په دویم ځل د خلیق صاحب منظوم خود نوشت "زهٔ او زما زمانه" کښې د هغوی د پېژندګلو په طور او بیا په مرکه مردان (خاکه نمبر) 22 جون 1992ء کښې د تبرک په طور چاپ شوې ده"(8).

دلته د دوو خبرو وضاحت ضروري دے یوه دا چې ایا د عبدالحلیم اثر خاکه "خلیق صاحب" یقیناً د پښتو وړومبۍ خاکه ده او که نه، دوېم وضاحت دا په کار دے چې ایا دغه خاکه "خلیق صاحب" د عبد الحلیم اثر لیکلې خاکه ده او که خلیق صاحب خپله لیکلې ده چې په کښې یې خپل خدوخال په خپله بیان کړے دے. دې دواړو وضاحتونو دپاره د دوو نقادانو ایوب صابر او ډاکټر حنیف خلیل بیانونه مخې ته ابنسودل ضروري دي چې ترې نه د ذکر شوو دواړو خبرو تردید کېږي.

هرکله چې ډاکټر حنیف خلیل د ایوب صابر مرحوم بیان هم د خپلې تجزئې سره پېش کړے دے ځکه مونږ د هغۀ په حواله د دې مسئلې د حل لټولو هڅه کوو، ډاکټر حنیف خلیل پښتو کښې د وړومبۍ خاکې پس منظر کښې د عبد الحلیم اثر نه علاوه د کاکاجي صنوبر حسېن د یوې خاکې حواله هم ورکوي او لیکي:

"(اس ضمن میں قاضی عبدالحلیم اثر کا لکھا ہوا خاکہ "خلیق صاحب" پشتو کا پہلا خاکہ تسلیم کیا جاتا ہے جو پہلی بار مئی 1949ء میں ہفت روزہ انصاف میں چھپا تھا، لیکن اس کو پشتو کا پہلا خاکہ تسلیم کرنے میں پھر بھی تامل ہو سکتا ہے کیونکہ ستمبر 1952ء کے ماہوار اسلم میں کاکاجی صنوبر حسین کا لکھا ہوا خاکہ "زوڑ اشنا" (پرانا یار) چھپا ہے، لیکن خاکہ کے مندرجات سے پتہ چلتا ہے کہ یہ 1949ء کی سردیوں میں لکھا گیا ہے. اب یہ فیصلہ کون کرے گا کہ دونوں میں پہلا خاکہ کونسا ہے، البتہ اتنی بات واضح ہے کہ عبدالحلیم اثر کا لکھا ہوا خاکہ پہلے شائع ہوا ہے"(9).

ترجمه: (په دې ضمن کښې د قاضي عبد الحلیم اثر لیکلې خاکه "خلیق صاحب" د پښتو وړومبۍ خاکه منلے شي چې په وړومبي ځل په مئ 1949ء کښې هفت روزه انصاف کښې شائع شوې وه، خو دغه د پښتو وړومبۍ خاکه تسلیمولو نه مخکښې دا کتل هم پکار دې چې په ستمبر 1952ء کښې په میاشتنۍ اسلم مجله کښې د کاکاجي صنوبر حسېن لیکلې خاکه "زوړ اشنا" چاپ ده. د دغه خاکې د مندرجاتو نه پته لګي چې دا د 1949ء کال د ژمي په موسم کښې لیکلې شوې ده، اوس به دا پرېکړه څوك کوي چې په دواړو کښې وړومبۍ خاکه کومه یوه ده. البته دا خبره ښکاره ده چې د عبد الحلیم اثر لیکلې خاکه وړومبۍ چاپ شوې ده).

دغه پس منظر نه پس حنیف خلیل د ایوب صابر او همېش خلیل صاحب د بیان نه علاوه د خلیق صاحب د خپلو تحریرونو په رڼا کښې دا خبره څرګندوي چې د پښتو کومې خاکې ته زمونږ محققین د عبدالحلیم اثر لیکلې خاکه وایي هغه په حقیقت کښې د خلیق صاحب خپله لیکلې خاکه ده هغه دې لړ کښې لیکي:

"ہمیش خلیل، قلندر مہمند وغیرہ کہتے ہیں کہ یہ خاکہ عبدالخالق خلیق نے خود لکھا تھا، چونکہ عبدالحلیم اثر ہفتہ وار انصاف کے مدیر تھے لہٰذا انہوں نے پہلی مرتبہ یہ خاکہ خلیق صاحب کی اجازت سے اپنے نام سے شائع کیا، اس بات میں صداقت اس لئے بھی ہے کہ خلیق صاحب کے بیٹے عزیز الرحمٰن سے خلیق صاحب کی تحریروں کا جو ریکارڈ ہمیش خلیل نے وصول کیا ہے اس میں یہ خاکہ خلیق صاحب کے اپنے ہاتھ کی لکھائی سے ان ہی کی تحریروں میں شامل ہے، تیسری بات یہ ہے کہ ایوب صابر مرحوم نے اپنی کتاب جدید پشتو ادب میں اس خاکے کے بارے میں اس وقت لکھا تھا جب عبدالحلیم اثر اور خلیق صاحب دونوں زندہ تھے"(10).

ترجمه: (همېش خلیل او قلندر مومند وغېره وائي چې دا خاکه عبد الخالق خلیق په خپله لیکلې وه. عبد الحلیم اثر چونکې د اوونۍ ورځنې انصاف مدیر ؤ، لهٰذا هغه په وړومبي ځل دا خاکه د خلیق صاحب په اجازت سره په خپل نوم چاپ کړه. په دې خبره کښې صداقت ځکه هم دے چې د خلیق صاحب د زوی نه چې همېش خلیل د خلیق صاحب د تحریرونو کوم ریکارډ وصول کړے ؤ، په هغو کښې دغه خاکه هم شامله ده چې خلیق صاحب په خپل لاس لیکلې ده. درېمه خبره دا ایوب صابر مرحوم په خپل کتاب "جدید پښتو ادب" کښې د دې خاکې په باره کښې هغه وخت لیکلي وو چې عبد الحلیم اثر او خلیق صاحب دواړه ژوندي وو).

په دې بحث کښې مونږ دې نتیجې ته خو را ورسېدو چې خلیق صاحب نومې خاکه عبدالحلیم اثر نۀ ده لیکلې بلکې خلیق صاحب په خپله لیکلې ده. البته دا لامزید تحقیق غواړي چې د پښتو اوله خاکه خلیق صاحب لیکلې که کاکاجي صنوبر حسېن؟. دې کښې هیڅ شك نۀ شته چې د عبد الحلیم اثر په نوم چاپ شوې د خلیق صاحب لیکلې خاکه "خلیق صاحب" د خاکې په فن پوره او د ژبې بیان او مزاج تر مخه زړۀ راښکونکې خاکه ده چې په 1949ء کښې په چاپ شکل مخې ته راغلې ده او دغسې پښتو کښې د خاکې اولنۍ نخښې هم مونږ ته د معیار ثبوت راکوي البته دا څرګندونه هم ضروري ده چې په دغه خاکه کښې هم زیاته توجه په حُلیه نګارۍ شوې ده او په ذهني، فکري، علمي او ادبي کړۀ وړۀ په کښې ډېر څۀ نۀ دي وئیلے شوي.

لکه چې وړاندې ذکر شوے چې په 1949ء کښې چاپ شوې د دغه خاکې نه پس یو شمېر لیکونکیو په پښتو کښې خاکې لیکلې دي چې فني کړۀ وړۀ یې د ستائینې حق لري خو د فن په تول پوره دغو خاکو نه وړاندې د "کرښې" په نوم خاکه نما لیکونه په پښتو کښې لیکلي شوي دي چې په فني لحاظ خاکې خو نۀ دي ولې د خاکې وړومبې نقش ورته ضرور وئیلے شو، د دغو کرښو په حقله زمونږ د پښتو نقادانو رائې دا ده چې قمر راهي صاحب په قند مجله کښې د "کرښې" دغه روایت اېښے ؤ خو په دې لړ کښې هم زمونږ لیکونکو که د "الفلاح" مجلې فایلونه وپلټل نو د ځهرې او قلمي ځهرې په عنوان به ورته دغه قسمه کرښې په نظر راشي چې د خاکې وړومبې نقش یې ګڼلے شو. دا قلمي ځهرې د الفلاح د 1955ء کال په مختلفو ګڼو کښې محفوظ دي چې په مختلفو وختونو کښې ښاغلو همېش خلیل، قلندر مومند، لطیف وهمي، ولي محمد طوفان لیکلي دي او کله کله به دا ادارې له خوا بې نومه هم چاپ کېدلې د دغو قلمي ځهرو ډېر مثالونه خو دلته د بیان د طوالت له وجې نۀ شي پېش کېدلے خو د ښاغلي همېش خلیل لیکلې یوه نمونه به وړاندې کړم، ښاغلے همېش خلیل د راحت زاخیلي ځهره د خپل قلم په ذریعه داسې وړاندې کوي:

راحت: چې د ورځ پاڼې شهباز د دفتر په یو ډبه کښې ئې ناست ووینې نو ناڅاپه به درته په صدف کښې د ګوهر خیال راشي، خو دې سره سره به دې هم دغه خیال د پښتون قوم په ناقدر شناسۍ په سرو سترګو هم وژړوي. راحت صاحب په روان دور کښې د یو اوچت لیکوال نه علاوه په پښتو ژبه کښې د افسانې او لطیف ادب باني دے. او پښتو ژبه ئې په خپلو شهپارو او صلاحیتونو نمانځلې ده، سکاڼ رنګ یو خاموشه غونډې سپین ږیرے چې هره خبره ئې په تول تللې وي، او د خبر نه ئې سنجیدګي او رواني ځاځي، که په مخه درغے نو پوه شه چې دا راحت صاحب دے"(11).

د دغې قلمي ځهرې نه پس د قمر راهي د کرښې یوه نمونې هم وګورئ او بیا د خاکې د فني غوښتنو په رڼا کښې ئې و څېرئ چې په دغو ځهرو او کرښو کښې تر کومه حده د خاکې کړۀ وړۀ لیدے شي، قمر راهي صاحب د کاکاجي صنوبر حسېن کرښې داسې راکاږي.

"کاکاجي صنوبر حسېن: د ویړې پښتونخوا کاکاجي یو خوږ او درونډ شخصیت، عظیم انسان، عظیم لیکوال، یوه داسې اداره چې ادارې پرې را غونډېږي، کاکاجي سره د نظریې اختلاف کېدے شي ولې سره د دې د ټولو سترګې کاکاجي ته دي ځکه چې د پښتو ادب د بوټي د ښېرازۍ دپاره چا خپله خو له پېښ کړې ده نو کاکاجي خپله وینه"(12).

مونږ وکتل چې نۀ خو دغه ځېرې مکملې خاکې دي او نۀ دغه کرښې، خو دا بيا هم وئيلے شو چې په دغو ځېرو او کرښو دواړو کښې د خاکې رنګ ليد ے شي، البته د خاکې په فن پوهېدونکي به د دې خبرې مرسته ضرور کوي چې د قمر راهي صاحب د کرښو نه د همېش خليل صاحب ځېرې د خاکې مزاج ته زياتې نژدې دي او بيا په تېره تېره ښاغلي همېش خليل چې د راحت زاخيلي کومه قلمي ځېره په لفظونو کښې وړاندې کړې ده، په هغې کښې د ژبې د خوږلت، د بيان د انداز او اسلوب، شګفتګي او تخليقي مزاج خواږۀ زيات ليد ے شي خو مونږ بيا هم دغو کرښو ته مکملې خاکې نۀ شو وئيلے او نۀ دغو ليکونکو خپلې دغه ځېرې او کرښې د خاکو په نوم وړاندې کړې دي.

مونږ چې کله په پښتو کښې د باقاعده خاکه نګارۍ جاج اخلو، نو دې لړ کښې د وړومبنو خاکه نګارو يادونه خو په وړاندې بحث کښې وشوه او دا هم وئيلے شوي دي چې د کاکاجي صنوبر حسېن او د عبد الحليم اثر په نوم چاپ شوې د خليق صاحب خاکې، د خاکې په فن پوره او معياري هم دي. د کاکاجي صنوبر حسېن او خليق صاحب نه علاوه چې د پښتو باقاعده خاکه نګار دي د هغوئ تذکره هم د ايوب صابر په حواله شوې ده البته دا يادونه هم ضروري ده چې په خپله ايوب صابر هم يو کامياب خاکه نګار ؤ چې د قلندر مومند خاکه ئې د جينئس په نوم ليکلې ده او د قلندر صاحب شعري مجموعې "سباؤن" سره چاپ شوې هم ده، هر څو که په دغه خاکه کښې هغۀ د ځنو دانشورو اقوال او د قلندر مومند شعرونه په داسې انداز کښې پېش کړي دي چې د خاکې مزاج او اسلوب ئې پرې زخمي کړے دے خو بيا هم دغه خاکه يوه په زړۀ پورې خاکه ده چې يوه نمونه ئې دلته وړاندې کولے شي.

"زۀ ډېر اعتماد سره دعوٰی کوم چې که چرې قلندر مومند زمانه ساز وای نو نن به د هغۀ مقبوليت د هر چا نه زيات وے، اوس هم که هغه د زمانه سازۍ چل زده کړي نو خپل قدردانان زياتولے شي، خو ما وئيلي دي کنه چې قلندر مومند د خپل دور نکولو ميکاويلې د ے، خپل فطرت نۀ شي بدلولے. خپله ايمانداري او خپله وفاداري نۀ شي خرڅولے، د خپل ضمير په مرۍ چاړه نۀ شي راکاږلے، ځکه د هغۀ د قدردانانو د زياتېدو هيڅ امکان نۀ شته"(13).

ښاغلي اسرار د طورو او م، ر شفق چې په پښتو کښې د خاکو کومه اضافه کړې ده، په هغې کښې ئې تر ډېره حده د خاکې د فن خيال ساتلے د ے، اسرار د طورو د ډاکټر امين الحق امين خاکه "د پښتو جالينوس" په نوم ليکلې ده، په دغه خاکه کښې د اسرار صاحب د جملو او لفظونو مناسب استعمال او د اسلوب شګفتګي ځرګندولو دپاره يوه نمونه وړاندې کوم چې په دې ډول ده:

"د ډاکټر صاحب خوبۍ به يقيناً ډېرې وي او د هغۀ د خوبيو تذکره ګران مشر خير الحق ګوهر هم کله کله کوي، ولې د هغۀ په ژوند کښې يو زبردست تضاد ته زۀ حيران يم، ښاغلے امين د غاښونو ډاکټر د ے، پخوا ما اورېدلي وو چې غاښ رنځور شي نو علاج ئې انبور شي، زمونږ په کلي کښې به ګلاب کاکا سره په ګوډي کښې يو انبور ؤ او د هر چا کوم يو غاښ چې به رنځور شۀ نو هغۀ به ترې نه په انبور په وچ زور وويستو، ما چې د ډاکټر صاحب شخصيت او اډانې ته وکتل نو پوه شوم چې د غاښونو کامياب ډاکټر د ے، د مضبوط نه مضبوط غاښ ته که دۀ يو ځل انبور اړم کړو نو په ان فن کښې به ئې را وباسي، ځکه چې هم ئې منګل مضبوطه ده او هم ورسره د غاښونو فن شته، خو تضاد په کښې دا د ے چې د خپلو غاښونو د حفاظت خيال نۀ ساتي او په نسوارو ئې جنګ بائللے د ے"(14).

د خاکو وړومبے کتاب يا مجموعه د چا ده؟ په دې حقله هم زمونږ محققين عموماً ناخبر پاتې شوي دي او خپلې نيمګړې څېړنې ئې د خپلې ناخبرۍ په نتيجه کښې پښتون اولس ته وړاندې کړې دي لکه چې وړاندې هم ورته اشاره

شوې ده چې په وړومبي ځل ښاغلي ايوب صابر وئيلي دي چې پښتو کښې د خاکو وړومبۍ مجموعه د اصغر لالا ده او وروستو زمونږ محققينو بغير د تحقيق نه هم دغه د اصغر لالا کتاب د خاکو وړومبۍ مجموعې په نوم پېش کولو، دې لړ کښې حنيف خليل ليکي:

"ایوب صابر صاحب نے خاکوں کا پہلا مجموعہ اصغر لالہ کے نام سے منسوب کیا ہے اور اس کے بعد ہمارے محققین تواتر سے یہی بات دہراتے چلے آرہے ہیں، اصغر لالہ کی کتاب "ژوند او ادب" (زندگی اور ادب) اصل میں خاکوں کی کتاب ہے ہی نہیں، پشتو میں خاکوں کا پہلا مجموعہ پشین صوبہ بلوچستان کے صاحبزادہ حمید اللہ کا ہے، جو 1975ء میں شائع ہوا ہے، مجموعے کا نام ہے "ادبي خاکې او نور" (ادبی خاکے اور کچھ اور) اس مجموعہ کے نام میں "کچھ اور" کے تکیہ کلام سے یہ غلط فہمی بھی جنم لے سکتی ہے کہ اس کتاب میں خاکوں کے علاوہ کچھ اور بھی ہو گا مگر اس کتاب میں صرف خاکے ہیں جو تعداد میں 28 ہیں"(15).

ترجمه: (ايوب صابر د خاکو وړومبۍ مجموعه د اصغر لالا په نوم منسوب کړې ده دې نه پس زمونږ محققين په تواتر سره دغه خبره تکراروي، اصل کښې د اصغر لالا کتاب "ژوند او ادب" د خاکو کتاب هډو دے نهٔ. په پښتو کښې د خاکو وړومبۍ مجموعه د صاحبزاده حميد الله ده چې په کال 1975ء کښې شائع شوې ده. د مجموعې نوم ئې "ادبي خاکې او نور" دے. د دې مجموعې د نوم يعني "او نور" د تکيه کلام نه دا غلط فهمي پېدا شوې ده چې په دې کښې د خاکو نه علاوه څهٔ نور هم شته، خو په دې کتاب کښې صرف خاکې دي چې تعداد ئې 28 دے).

د حنيف خليل دا خبره خو درسته ده چې "ادبي خاکې او نور" د صاحبزاده حميد الله صاحب کتاب دے چې په کال 1975ء کښې چاپ دے او په 28 خاکو باندې مشتمل دے، ولې دا خبره ئې درسته نهٔ ده چې په دې مجموعه کښې صرف هم دغه 28 خاکې شاملې دي او نور څهٔ په کښې نهٔ شته، دې کتاب کښې د خاکو نه علاوه پښتو محاورې د صاحبزاده صاحب خپل يو نظم، د عصمت الله ازرده، عبد الکريم بريالي او عبد الباري اسير غزلونه او حيف بنام مراد بلوچ په نوم په اردو کښې يو طنزيه ليك هم شامل دے، د کتاب د دې برخې (شاعرۍ) په حقله به دومره ووايم چې لکه څنګه صاحبزاده صاحب خاکې د فن په تول پوره نهٔ دي هم دغسې ئې شاعري هم په فني حواله کمزورې ده. دې نه علاوه پروفېسر صاحبزاده صاحب نهٔ يوازې د خاکې د ابتدا په حقله ناقص معلومات وړاندې کړې دي بلکې د هغهٔ په دغه مجموعه کښې شاملې خاکې هم د شخصياتو د فکري سفر په ځاى د شخصياتو په شکلي او صوري کړهٔ وړهٔ زور راوړے دے او دغسې ئې د خاکه نګارۍ په ځاى د حليه نګارۍ وظيفه ترسره کړې ده، دې نه علاوه د صاحبزاده صاحب خاکې يو خوا خو دومره اختصار لري چې د خاکې د اختصار نويسۍ باوجود ئې په معياري خاکو کښې نهٔ شو شمېرلے بل خوا د هغهٔ ځينې خاکې په انتهائي غېر معروفو او غېر اهمو شخصياتو دي چې د خاکې اهميت ته ئې يوه بله سواليه نخښه ايښې ده، د صاحبزاده صاحب په خاکو کښې يوه بله خامي دا ده چې د اخلاقياتو نه پرېوتې خبرې هم په کښې په نظر راځي او د ژبې، بيان او اسلوب شګفتګي او خوږلت په کښې چرته هم نهٔ شي ليدے.

هم دغه د صاحبزاده صاحب تقريباً د ټولو خاکو اسلوب دے او هم دغه ئې معيار دے چې د خاکې په فن پوهېدونکي ليکونکي به ئې په خپله د معيار تعين وکړي.

د دې دوېم دور په خاکه نګارو کښې د عبد الواحد قلندر، ډاکټر همايون هما، ډاکټر اسرار، رياض تسنيم او يو شمېر نوو او زلمو ليکوالو نومونه مخې ته راځي خو په دغو ټولو کښې د مردان عبد الواحد قلندر يو داسې ليکونکے دے چې دې صنف سره ئې خپله رشته ټينګه ساتلې ده او وخت په وخت ئې خاکې ليکلې دي چې په

مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوې دي البته د هغهٔ د خاکو کومه مجموعه تراوسه نهٔ ده چاپ شوې، د دې دور په ليکونکو کښې دا اعزاز پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت تر لاسه کړے دے چې په دسمبر 1999ء کښې ئې د نقشونه په نوم د خاکو مجموعه چاپ کړې ده، په دغه مجموعه د ښاغلي مشتاق مجروح د ليك نه علاوه سعيد ګوهر صاحب يوه تفصيلي مقدمه ليکلې ده چې په کښې ئې د زبېر حسرت د خاکو جائزه اخستې ده، او د هغهٔ ځنې خاکې ئې ستائيلې دي خو دې سره سره د زبېر حسرت اکثرې خاکې ئې په فني توګه نيمګړې هم ګڼلې دي، تر دې چې د هغهٔ ځنې خاکې ئې هډو خاکې نهٔ دي ګڼلې، بلکې مضمونونه ئې ورته وئيلي دي، د سعيد ګوهر صاحب رائې په دې ډول ده:

"په دې کتاب کښې د ګران زبېر حسرت شپږ خاکې شاملې دي چې د محترم قلندر مومند او مرحوم ډاکټر امين الحق امين غوندې مشاهيرو او د مشتاق مجروح، همايون همدرد ، روښان يوسفزي او عبد الرؤف عارف غوندې نويو ليکونکيو باندې هغه د را روانو پښتو خاکو په تتبع کښې کښلې دي، زهٔ منم چې په دغو خاکو کښې د خاکه نګارۍ جزئيات ځای په ځای ضرور شته خو په مجموعي ډول ئې په تعريف او تعارف ډك ښهٔ او شګفته مضامين بولم چې د خپل صنف غوښتنې کماحقه نهٔ پوره کوي"(16).

په پورتنې اقتباس کښې د زبېر حسرت د شپږو خاکو ذکر شوے دے او ګوهر صاحب د دغو شپږو خاکو په رڼا کښې خپله رائې ورکړې ده، اصل کښې د زبېر حسرت په کتاب کښې ديارلس خاکې شاملې دي چې وروسته د "تکمله" تر عنوان لاندې ګوهر صاحب د پاتې خاکو جائزه هم اخستې ده، او د مخکښې غوندې په دې موقع ئې هم د هغهٔ د خاکو فني نيمګړتياوو ته ګوته نيولې ده. د ګوهر صاحب رائې په دې ډول ده:

"که چرې د خاکې د مجموعي تاثر په رڼا کښې وليکم نو پير ګوهر صاحب ئې د "پيرانِ پير" درجې ته رسولے دے، په هغهٔ کښې هيڅ انساني کمزوري ما بيا نهٔ مونده، د واحد قلندر فکري او نظرياتي تشخص خو شوے دے خو د هغهٔ ذاتي شخصيت او د شخصيت دواړو رُخه په کښې نهٔ دي بيان شوي، زهٔ دا عقيده لرم چې شاعر، اديب، دانشور يا فنکار د خپلو ټولو عظمتونو باوجود ځنې کوتاهۍ، کمۍ او خامۍ هم لري، بايد چې هغه نظر انداز نهٔ شي، بلکې په ډېرو مهذبو او پستو ټکو کښې په ډېر هنر بيان کړے شي... د اې جې پروېز خاکه هم له دغه کراره حساب کړئ، زما په خيال دا د هغهٔ د فني ژوند او فن او هنر په باب يو ښهٔ مضمون دے چې لږ او ډېر د خاکه نګارۍ رنګ ضرور لري خو من حيث المجموع خاکه نهٔ ده"(17).

د زبېر حسرت په کتاب ليکلې سريزه کښې سعيد ګوهر د پښتو خاکه نګارو يو اوږد فهرست خو پېش کړے دے خو دا اعتراف ئې هم په حقه کړے دے چې په پښتو کښې د فن او ټېکنيك په تله پوره خاکه ډېره کمه ليکلې شوې ده، هغه دې لړ کښې ليکي:

"په افغانستان کښې عبد الحے حبيبي، عبد الرؤف بېنوا ، صديق الله رښتين، محمد ګل نوري، حبيب الله رفيع، زلمے هيوادمل، زرين انځور او محمد افضل ټکور په لويه پښتونخوا کښې ميا احمد شاه باراټ لاء، عبد الخالق خليق، قلندر مومند ، قمر راهي، ايوب صابر، اصغر لاله، رشيد علي دهقان، مراد شينوارے، تقي شراب هاشمي، اياز داودزے، اسرار طوروي، عبد الحليم اثر، عبد الله جان مغموم، م-ر شفق، فهم دل راهي، افضل رضا ، ډاکټر اسرار، محمد همايون هما ، ډاکټر دروېش، اختر منير منير، همايون همدرد ، رياض تسنيم او زبېر حسرت. په سهېلي پښتونخوا کښې حافظ خان محمد ، ربنواز مائل، سلطان محمد صابر، صاحبزاده حميد الله،

فضل احمد غازي، جعفر اڅکزے، پروفېسر سيال کاکړ، يوسف ګل وردګ، ظفر الله خان، سيد خير محمد عارف، سرور سودائي، عمرګل عسکر، عبد الکريم بريالے، سيد محمد ګل شاه خوستے او راقم الحروف هغه کسان دي چې په خصوصيت سره د پښتو خاکه نګارانو په فهرست کښې شامل را روان دي"(18).

دغه ورکړے شوي فهرست کښې ګڼ شمېر ليکونکي داسې دي چې نۀ خو ئې د خاکې فن او تېکنيک ته وده ورکړې ده او نۀ ئې په مجموعي توګه د خاکه نګارۍ په ميدان کښې خپل ځانګړے نوم پيدا کړے دے، تر دې چې د افغانستان د کومو لويو محققينو او ليکونکو نومونه سعيد ګوهر صاحب د خاکه نګارو په فهرست کښې راوړي دي، د هغوی د پښتو په دې جديد صنف کښې د فني ارتقاء له مخه هيڅ برخه نۀ شته او نۀ ئې کومې معياري خاکې مخې ته راغلې دي.

البته په دې وروستي دور کښې ځينې ليکوالو په فېس بک او د سوشل مېډيا په نورو ذريعو ځنې خاکې وړاندې کړې چې په دغو کښې يوه نامه د ګل محمد بېتاب ده، ګل محمد بېتاب بيا خپلې خاکې د "چرچڼو توت" په نوم کتابي شکل کښې هم چاپ کړې چې په زياتو خاکو کښې ئې يو مخيز منفي انداز خپل کړے دے، يعني په کومو شخصياتو ئې خاکې ليکلې دي عموماً ئې غندلي دي، او د دغو متعلقه شخصياتو په منفي اړخونو جوتولو ئې زياته توانائي لګولې ده. دې نه علاوه د بېتاب صاحب خاکې کله کله دومره اوږدې شي چې د ذهني ستړيا احساس ترې کيږي. د نوي دور په دغو خاکه نګارانو کښې چې کوم ليکونکي ډېرې زړۀ راښکونکې خاکې ليکلې دي هغه د مردان د سيمې اقبال کوثر دے خو له بده مرغه زمونږ ډېرو ليکونکو ته د اقبال کوثر د خاکو ادراک نۀ دے شوے او نۀ پرې علمي او تنقيدي بحث چا کړے دے.

په دې توګه مونږ پښتو کښې د خاکه نګارۍ د فني او فکري سفر دا بحث را غونډوو نو په دې نتيجه رسو چې د دې صنف دغه ارتقائي سفر د شلمې صدۍ د منځوماني نۀ شروع شوے ؤ او تراوسه جاري دے خو که مونږ د فن او فکر له رويه دغسې سفر ته ګورو نو د ګوتو په شمېر ليکونکي به په نظر راشي چې د دې صنف د فني غوښتنو حق ئې پوره کړے وي، مونږ که د نړۍ نور تخليقي نثر په ځای پرېږدو او يوازې په اردو ادب نظر واچوو نو د يحیٰ امجد، رشيد احمد صديقي او محمد طفيل غوندې ليکوالو چې دې صنف ته په ځانګړې توګه کومه ترقي ورکړې ده، د پښتو خاکه نګارانو په شريکه هم نۀ ده ورکړې، دغه شان که مونږ د خاکې فني معيار ته ځير شو نو د عصمت چغتائي، سعادت حسن منټو، شاهد احمد دهلوي او ممتاز حسېن مفتي د معيار ليکوال به مونږ پښتو کښې کله او څنګه پيدا کړے شو. البته دومره قدرې وئيلے شو چې زمونږ د ليکونکو په دې جديد نثري صنف نظر دے، د دې صنف فني مطالعه هم کوي او په دې صنف کښې د خپل تخليقي جوهر څرګندونه هم کوي چې پښتو کښې د دې صنف د معيار او مقدار دواړو په حواله د ګټورې اضافې سبب جوړېدے شي، تراوسه په پښتو کښې د دې صنف فني او فکري سفر کښې يو شمېر معياري خاکې او خاکه نګار هم زمونږ مخې ته راغلي دي خو ګڼ شمېر ليکوالو ته د دې صنف دا فني نزاکت او تخليقي عمل په ميدان کښې د لازيات رياضت، محنت او صلاحيت ضرورت دے چې پښتو کښې دا صنف د فن معراج ته ورسولے شي.

OOO

## References

1) http: // www.Aqr.org.uk/, glossary/pen portrait retrieved on 23 April, 2015
2) http: //en.wekiepedia.org/wiki/sketch story retrieve on 23 April, 2015
3) Hafeez Sadeeqi, Abu-al-Iijaz, Kashaf Tanqeedi Istelahat, Moqtadara Qumi Zaban Islamabad, 1985, Page - 72
4) Saifi Bashir, Urdu may khaka Nigari, mashmola Albam (Az Syed Faraigh Bukhari) , University Book Agency Peshawar, (Seen Noon), Page- 18
5) Daud Dawar Khan, sairana ao kara katna, , Milat Printers Lahore , January 2004, page 235
6) Sahibzada Hameedullah , Adabi Khakay ao nor, Islamia Press Quetta, 1975, Page 5
7) Sabir, Ayub, Jadeed Pashto Adab, Pashto Adabi Markaz Saraye Nwrang Bannu, (seen noon), Page 123
8) Hasrat, Muhammad Zubair, Dr., Naqshona, zar panra printers publisher Peshawar, dwayam chaap, september 2010, Pages 40, 41
9) Hanif, Khalil, Pashto Zaban wa Adab ki Tareekh, University Publisher Peshawar, 2009, page 338
10) Ibid page 339
11) Khaleeq, Abdul Khaliq, zh ao zma zamana, Idara Ishaat Sarhad Peshawar, 1974, page 4
12) Khalil Hamaish, Qalami sehray, Myashtani alfalah Peshawar, April 1955, page 2
13) Rahi , Qamar, Karkhay, mashmola Maraka Mardan, da Adabi dostano maraka, June 1992, page 31
14) Sabir Ayub Genius , mashmola Sabawoon (Qalandar Momand), Qami Maktaba Peshawar , 1976, page 22
15) Israr da Toroo, da Pashto Jaleenos, mashmola Maraka (maho bala) page 47, 48
16) Khalil, Hanif, Pashto Zaban wa adab ki tareekh, page 341
17) Gohar Saeed, Khaka ao da Zubair Hasrat Khakay, mashmola Naqshoona, page 15
18) Ibid page 13